# اې د الله رسوله! که یو څوک راشي او زما مال اخیستل وغواړي؟

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې: یو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ویې ویل: اې د الله رسوله! که یو څوک راشي او زما مال اخیستل وغواړي؟ هغه وفرمایل: «خپل مال مه ورکوه»، ویې ویل: که له ما سره وجنګېږي؟ ویې فرمایل: «له هغه سره وجنګېږه»، هغه وویل: که ما ووژني؟ ویې فرمایل: «نو ته شهید یې»، هغه وویل: که زه هغه ووژنم؟ ویې فرمایل: «هغه به په اور کې وي».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

یو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ویې ویل: ای د الله رسوله ! که یو سړی راشي او زما مال اخیستل وغواړي؟ هغه وفرمایل: نو ته اړ نه یې چې ورته تسلیم شې او خپل مال دې ورکړې، هغه وویل: که هغه له ما سره جګړه وکړي؟ هغه وفرمایل: تا ته روا ده چې ورسره وجنګېږې، ویې ویل: خبر راکړه، که هغه ما ووژني؟ هغه وفرمایل: نو ته شهید یې، هغه وویل: که زه هغه ووژنم؟ هغه وفرمایل: هغه مستحق دی چې په قیامت کې په اور سره عذاب ورکړل شي .

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3557

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee